SHARIAT

شریعت

په اوونی کي دوه ځله خپرېږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال اووه پنځوسمه گڼه پرله پسي (۳٤٤) شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال دجمادي الاول (۱۲)
د۱۳۷۹هـ ش کال د زمري دمیاشتی(۲۲) د ۲۰۰۰میلادي کال د اگست (۱۲)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا (پرهيزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

بعد از ۹ سال وقفه :

جریان برق در ادارات مرکزي وزارت تحصیلات عالي تأمین گردید

کابل - باختر :

بعد از ۹ سال وقفه جریان برق در پوهنځي انجنیري پوهنتون کابل و ادارات مرکزي وزارت تحصیلات عالي مجدداً تأمین گردید.

محترم مولوي فضل الرحمٰن رئیس طرح و پلان وزارت تحصیلات عالي گفت: در اثر جنگ هاي تنظیمي رژیم گذشته تمام زیربناي سیستم برق و کانالیزاسیون ساختمان هاي پوهنتون کابل و ادارات وزارت تحصیلات عالي تخریب و از بین رفته بود که به اثر توجه مقام وزارت تحصیلات عالي و امداد مؤسسات خیریه یك تعداد ترانسفارمر ها در برج هاي برق دو باره نصب و به سلسله باز سازي شبکه هاي مذکور دیروز یك پایه ترانسفارمر ۲۵۰ کیلو ولت که از طرف مؤسسه خیریه وفا بوزارت تحصیلات عالي مساعدت گردیده بود فعال گردیده و جریان برق در پوهنځي انجنیري پوهنتون کابل و ادارات وزارت تحصیلاتي عالي تأمین گردید.

ترانسفارمر مذکور دیروز توسط محترم مولوي محمد مسلم حقاني معین اداري وزارت تحصیلاتي عالي در حالیکه محترم قاري ذبیح الله زاهد معین علمي آن وزارت و محترم مولوي پیر محمد روحاني رئیس ٤ مخ

د ننگرهار ولایت دگمرک :

جامع جومات پرانستل شو

د ننگرهار ولایت د گمرک جامع جومات پرون پرانستل شو او د لمونځ کوونکو د استفادی ور وگرځید.

د جلال آباد له ښار نه د باختر د اطلاعاتي اژانس خبریال خبر راکړ : د ننگرهار ولایت د گمرک جامع جومات چی ددغه ولایت د گمرک له بودجې څخه د نوی زرو لکو افغانیو په لگښت او د ننگرهار ولایت د ملی سوداگرو په مالی مرسته د دوه جریبه ځمکی په ساحه کی په پاخه او اساسی ډول په دوو پوړونو کی جوړ شوی دی ټول ضروری ملحقات لری او د اودا سه ځای یی په عصری او سمبال ډول جوړ شوی دی.

ددغه جامع جومات د پرانستلو په مراسمو کی د خشیخ زون د تنظیمیه ریاست ٤ مخ

د عیني واقعیتونو په درك كولو سره :

۲۰ تنه مخالف قوماندانان او د هغوی ۳۰۰ تنه افراد له اسلامی اردو سره یو ځای شول

هغوی له ځانه سره ۳۰۰ میله سپکی او درنی وسلی هم تسلیم کړی

په نومړو قوماندانانو کی ملا محمد عثمان ، قوماندان عبدالمجید بای قوماندان حبیب الله ، او قوماندان محمد صادق شامل دی

یو ځای شوی قوماندانان د سرپل ولایت د کوهستاناتو په ولسوالی پوری تړاو لری

سر پل - باختر :

شل تنه مخالف قوماندانان په دی وروستیو وختو کی د خپلو دری سوو تنو وسله والو افرادو په گډون د سر پل ولایت د کوهستاناتو ولسوالی په مربوطاتو کی د اسلامی اردو له مجاهدینو سره یو ځای شول.

دغه قوماندانان هر یو محترم قوماندان کاکا میرزاخان ، محترم قوماندان ملا محمد عثمان ، محترم قوماندان حاجی عبدالواحد ، محترم قوماندان حبیب الله ، محترم قوماندان عبدالمجید بای ، محترم قوماندان محمد ایوب ، محترم قوماندان محمد صادق ، محترم قوماندان حیات خان ، محترم قوماندان عبداللطیف او محترم قوماندان حاجی عبدالاحد په دی وروستیو وختو کی د اسلامی امارت په ریښتینولی باندی په پوهیدو سره د خپلو دری سوو تنو وسله والو کسانو او د دری سوه میلو درندو او سپکو وسلو په گډون د سر پل ولایت د کوهستاناتو ولسوالی په مربوطاتو کی د اسلامی اردو له مجاهدینو سره یو ځای شول.

د اسلامی اردو له مجاهدینو سره د پیوستون په وخت کی دغو ٤ مخ

در عایدات ریاست برق ولایت ننگرهار یك اعشاریه ٦ ملیارد افغاني ازدیاد بعمل آمده است

ننگرهار - باختر :

بعد از استقرار حاکمیت امارت اسلامي در عواید ریاست برق ننگرهار چهل فیصد و در تولید انرژي برق در آنولایت ده فیصد افزایش به عمل آمده است.

این مطلب را محترم مولوي محمد فاروق عمري رئیس برق ولایت ننگرهار طي مصاحبه اي ابراز داشته افزود : در سال ۱٤۲۰ هجري قمري مبلغ شصت و چهار ملیون افغاني و در ص ٤

پروژه تمدید لین ۱۵ کیلو ولت مورد بهره برداري قرار گرفت

کابل - باختر :

پروژه تمدید لین پانزده کیلو ولت از سب استیشن شمال الي فامیلي هاي قرغه شهر کابل تکمیل و مورد بهره برداري قرار گرفت .

وزارت آب و برق همیشه میکوشد و سعي مي نماید با در نظر داشت امکانات و ظرفیت هاي موجوده در مرکز و ولایات کشور شبکه هاي برق که از اثر جنگ ها از بین رفته دو ص ٤

از طرف مسؤلین امنیتي دو تن سارق بازداشت گردیدند

شریعت : قبل از ظهر سه شنبه نهم جمادي الاول دو تن سارق هر یك عبدالشکور فرزند عبدالکریم حین سرقت ۹۸ حلقه تایر موتر در مربوطات حوزه هشتم و اکمل فرزند بخت محمد حین سرقت یك ملیون افغاني پول نقد و یکتعداد اموال و اثاثیه از یك منزل واقع کارته ٤ مربوط حوزه سوم امنیتي پولیس شهر کابل از جانب مسؤولین مدیریت مبارزه با جرایم ص ٤

په پکتیا کی :

٦۰ جریبه ځمکه د بنگو له بوټو پاکه شوه

د پکتیا ولایت په مربوطاتو کی د شپیته جریبه ځمکی ساحه د بنگو د بوټو له شته والی څخه پاکه شوه .

د پکتیا له ولایت نه د باختر د اطلاعاتی آژانس خبریال ٤ مخ

٦ ملیون هکتار زمین هاي جنگلي امریکا طعمه حریق گردید

شش ملیون هکتار زمین هاي جنگلي در غرب ایالات متحده امریکا در آتش میسوزد و حکومت ایالات متحده امریکا بخاطر اطفائیه حریق سربازان بیشتري را به محل حادثه میفرستد.

این بزرگترین آتش سوزي طي ده ها سال در ایالات متحده امریکا میباشد.

عمله اطفائیه در اطفاء این حریق، نجات مردم، حراست از دارایي و خاموش کردن حریق ص ٤

دفاتر ماین پاکي افغانستان از اسلام اباد به کابل انتقال یافت

شریعت :

دفاتر مرکزي ماین پاکي افغانستان که از طي ۱۰ سال بدینسو در شهر هاي آسلام آباد و پشاور پاکستان فعالیت داشتند، براي نخستین بار به کابل انتقال یافت.

یك منبع مسؤول در زمینه به خبرنگار ما چنین اظهار داشت : هم اکنون ۹۰ فیصد این دفاتر به کابل انتقال یافته و قرار است تا ختم ص ٤

مقامات جاپاني از جنایات امریکائیها ابراز تأسف نمودند

تکرار جرایم تفنگداران امریکایي در جاپان باعث ابراز تأسف مقامات جاپاني شده است.

رئیس سازمان دفاع جاپان دیروز ضمن بازدید از پایه امریکایي در جزیره اوکینا ص ٤

اهالي ولسوالي پغمان تحت تهدید جدي خشکسالي قرار دارند

شریعت : خبرنگار ما که روز قبل از ولسوالي پغمان ولایت کابل دیدن نموده است تاثیرات خشکسالي را در پیکر زراعت و مواشي اهالي آن منطقه چنین گزارش میدهد :

ولسوالي پغمان که در هفده کیلو متري مرکز شهر کابل قرار دارد تا چندي قبل یکي از محلات شاداب و تفریحي شهر به شمار میرفت. باشندگان این محل اکثراً مصروف زراعت ص ٤

انفجارات پي در پي وضعیت امنیتي مسکو را وخیم تر ساخت

به تعقیب حادثه بم گذاري روز سه شنبه در مسکو تدابیر امنیتي در سراسر روسیه افزایش یافته است .

در جریان انفجار مذکو مخ

د شهید استاد عبدالغفار «ابراهیمی»

دَ مدرسي د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د شهید استاد عبدالغفار ابراهیمي د مدرسي د بنسټ ډبره پرون د کابل ولایت دده سبز ولسوالي د تره خیلو د کوچیانو په کلي کي د هوي غونډي په ترځ کي کېښودل شوه .

دغه مدرسه چي د تره خیلو د کوچنیانو د کلي د هو شمیر

د عامی روغتیا په وزارت کی د کلوریشن د پروگرام مشر محترم الحاج سید نجیب الله معصومیار له «شریعت» سره په مرکه کی :

تیرو ۳ اوونیو په ترځ کی د کابل ښار د څښاک د اوبو څه د پاسه ۱۲۰۰۰ ځاگانی او منابع کلوریشن شوی

شریعت : قدرمنو لوستونکو! څرنگه چی تاسی د هیواد د ډله ییزو اطلاعاتو د وسایلو له لاری خبر تر لاسه کړی څه موده وړاندی د افغانستان د اسلامی امارت د عامی روغتیا وزارت په نوښت او د WHO,WFP او د ملگرو ملتو د یونیسف اداری په مالی او تخنیکی مرستو د کابل ښار د څښاک د اوبو د تولو زیرمو او عامه ځاگانو د کلوریشن پروگرام پیل شوی . زموږ خبریال له وخت نه په استفادی سره د نوموړی پروگرام له مشر محترم الحاج سید نجیب الله معصوم یار سره مرکه کړی او له نوموړی نه یی ددی پوښتنی په ترځ کی چی عام خلک څرنگه کولای شي خپل ژوند او روغتیا له وژونکو ناروغیو نه خوندی وساتی؟ معلومات غوښتی. چی دا دی ستاسی عزیزانو د خبرتیا لپاره یی خپروو .

په پیل کی د کلوریشن د پروگرام مشر محترم الحاج سید نجیب الله معصومیار داسی وویل : ددی لپاره چی زموږ گران هیواد وال او په ځانگړی ډول ماشومان خپل ژوند او روغتیا د نس ناستی، پیچشونو، محرقی او داسی نورو وژونکو انتانی ناروغیو په وړاندی وقایه او له شره یی ځانونه خوندی وساتلی شی نو لازمه ده چی لاندی روغتیایی ښتیزی لارښوونی په پام کی ونیسی:

له پاکو اوبو نه استفاده کول : پاکی اوبه هغه دی چی رنگ ، بوی او خوند ونه لری او د څښلو وړ وی هغه اوبه چی له مصئونو زیرمو او منابعو نه چی زیان رسوونکی باکتریالوژیکی مواد په کی نه وی اخیستل کیږی ٤ مخ

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

آیا په اوسنیو شرایطو کي لویې جرگي ته څه ضرورت شته ؟

په افغانستان کی د کمونیستی رژیم د نسکوریدو نه وروسته چی کومه گډوډی راغله او هیواد عملاً د تجزیی په درشل ودرید، ځو بیلا بیل حکومتونه او ملوک الطوایفی جوړی شوی او دښمنان په دی هیله شول چی نور نو د افغانستان په نوم کوم پیاوړی او متحد هیواد وجود نه لری او دا دی د عمرو عمرو ارمان یی پوره شوی دی.

۲ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کې (۳) کلداری
پسټ بکس : (٤٧۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ - توزیع او شکایات : ٦۲۸٥۹
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتي برخه

نو په هغه وخت کی زموږ دغو دوستانو او خواخوږو هیڅکله هم د لویی جرګی او یا کومی بلی طرحی اواز پورته نه کړ، ګویا د حال په ژبه ټولو همدا ویل چی مه کوه همداسی دی سره اخته وی خو کله چی د لوی خدای «ج» فضل وشو او د اسلامی امارت په قیام سره هغه ګډوډی او لنډ کی پادشاهی ګانی له منځه ولاړی د هیواد په ۹۰٪ خاوره کی نظم او امنیت راغی او دښمنانو ته دا ویره پیدا شوه چی ټولی هلی ځلی بی عبث ولاړی نو سمدستی بی په اصطلاح د لویی جرګی او پراخ بنسټه حکومت ناری سوری پیل کړی، تر څو وکولای شی اسلامی امارت تر فشار لاندی راولی او افغانان پری نیږدی چی ټول په یوه مرکز راټول او د خپل هیواد د شل کلنو جګړو په پرهرونو پټی کیږدی، له بلی خوا یو شمیر مغرضو هیوادو زموږ ځینو تجزیه غوښتونکو او نوکرو ډلو ته جنه پریمانه جنګی مهمات، وسلی او پیسی ورکول هم پیل کړل خو څنګه چی اسلامی امارت د هیواد د ټولو مجاهدو او دردمنو علماو قومی مشرانو او عام ولس له غوڅ ملاتړ نه برخمن دی، الحمد لله تر اوسه پوری دا ټولی دسیسی شنډی او هیڅ نتیجه بی نه ده ورکړی، دا چی ملت اوس ویښ او دا حقایق جنه ورته معلوم دی چی اسلامی امارت واقعاً د یوی داسی خپلواکی لویی جرګی له خوا تصویب او تایید شوی چی غړی بی په ډیر اخلاص او پرته له کوم بهرنی دباو او تشویق نه خالص د خپل دین او هیواد د ساتلو او ژغورلو لپاره راټول شوی وو، ددی جرګی پیل او پای ټول د هیواد په دننه کی تر سره شو او د قیام او انتظام لپاره بی نه پردی مرستی راغلی او نه پردی پلانونه، د جرګی ټول غړی زموږ د ولس د تل نه را ټوکیدلی او د خپلی ټولنی په دود دستور جنه بلد خلک وو او پرته له کوم سیاسی چل او فریب نه بی په پوره آزادی سره خپلی نظریی څرګندی او د اسلامی امارت په قیام لاسونه پورته کړل نو کله چی په دغسی قانونی او روایتی ډول یو نظام منځ ته راغلی وی، د هیواد په ۹۰٪ برخه عملاً جنه تسلط او کنترول ولری، اسلامی شعایر بی نافذ کړی د خپل کلتور او عنعناتو احترام کوی او د خپل هیواد په بیا ودانولو شپه ورځ لګیا وی، نو بیا له نوی سره د یو نظام او زعامت د ځیږلو په ځای به دا جنه نه وی چی ټول افغانان خپله پاملرنه یوازی او یوازی د خپل وران ویجاړ هیواد ودانولو او سمسورتیا ته را وګرځوی خپل ټول وس توان او استعدادونه د همدی نظام د پیاوړتیا په لار کی استعمال کړی او که په دی کی څه کمی زیاتی او نیمګړتیاوی، پوره بی کړی پاتی شوه د روانی جګړی موضوع نو دا خو له هیچا پټه نه ده چی دا د هماغو برغلګرو روسانو په وسلو، پیسو او لارښوونو چلیږی، چی پوره څوارلس کاله زموږ دا ټول ملت ورسره لاس ګریوان وو او یو نیم ملیون شهیدان بی پری ورکړل.

نو په همدی اساس یو ځل بیا د فرمایشی لویی جرګی خواخوږو او د افغانستان د کشالی هواری غوښتونکو ته یادونه کوو چی راځی دلته موجود واقعیتونه په ر ښتینی ډول وځیږی، په سوچه اسلامی او افغانی مفکوره تصمیم ونیسی او د پردیو له غوښتنو او مشورو تیر شی. اسلامی امارت په دی هکله هر ډول تفاهم ته چمتو دی او دا هیله کوی چی بیا بیا په دی هکله د ټولو خواو سره خبری اتری وکړی.

موږ یقین لرو چی که په ربښتینی ډول د افغانانو تاریخ او ملی کلتور ته کتنه وشی او په بشپړ ډول په دی خبره اتفاق وشی چی پردی لاس وهنی، نقشی او پلانونه به نه منو او په یوه سوچه اسلامی ماحول کی به پریکړی کوو او حقیقتاً به دولس د مطلق اکثریت د غوښتنو احترام کوو نو خامخا به د اسلامي امارت په حقانیت قانع او ټولی خواوی به بی تایید کړی ځکه اسلامی امارت د هغه اکثریت او خپلواک ملت په خوښه او ملاتړ منځ ته راغلی چی هیڅکله هم له پردیو سره په ناسته پاسته او د هغوی نقشو او پروګرامو ته په غوږ نیولو نه دی تورن بلکی ټول د یوی پاکی او سوچی مفکوری خاوندان او همیشه بی د خپل دین او ملی عنعناتو په رڼا کی تصمیم نیولی دی.

معما

یو وخت د ګوندونو او تنظیمونو توپان الوتی و، بیا د ګوندیو سیلی چلیده، وریسی د اتحادونو، اتحادیو او ائتلافونو بریوکی پورته شوی، بیا د شورا ګانو شور او لوخړی خپری شوی، اوس د غونډو بازار ګرم دی. د روم غونډی لا ساده نه وه اخیستی چی د قبرص پری راوغورځیده.

د روم د غونډی چلوونکو خود پخوانی پاچا نوم را پورته کړی چی د څلویښتو کلونو پاچا تیر شوی. څلویښت کاله بی د هری جمعی د لمانځه په خطبو کی نوم اخیستل شوی، تر یواله پیژندنه لری. د عمر له اړخه هم سپین روبی او تر ټولو مشر دی، هره شپه عسکرو د عمر دی ډیر شه پاچا پر دعا بدرګه کړی او ډیرو بی د تخت او بخت د برقراری دعا ګانی کړی، خلد الله ملکه و سلطنته»

د قبرص بی لا څوک دی چی را ولاړ شوی، غونډی جوړوی او د چا خبره بی او ما چه ځانونه خولی کوی. یوه خبره شته او هغه دا چی د قبرس په غونډه کی هم د پخوانی پاچا د وخت والیان او د والیانو زامن او داسی نوری ګرګی څوک له لیری او نژدی لاس لستونی اچوی چی ددغسی غورځو پر ځو په ستیج بی له پخوا قبضه لګولی ده.

څوک وایی د قبرس غونډه د روم د غونډی پر خلاف ده چی هغه کمزوری کړی او افراد بی وویشی لکه څوک چی په یوه حوزه کی ګڼ کاندیدان ودروی او رأی تقسیم کړی. څرنګه چی د قبرص د غونډی جوړوونکی ښاغلی همایون جریر له حکمتیار صاحب سره نژدی خپلوی لری په لومړی سر کی ویل کیدل چی دا د روم د پروسی د تخریب یو ګام دی خو بیا ځینو دا وړاندوینه وکړه چی دغه دواړه غونډی به سره یو کیږی بیا نو چی څه وشول هغه به شوی وی، خو خبره لا هماغسی معما پاتی ده دا خبره سړی ته یو څه ستونزمنه ښکاره شی ځکه د یو کیدو او اتحاد عملیه له تیرو دوه ویشتو کلونو راهیسي بیخي بی باوره شوي، تر دی چی هر اتحاد نوی او جلا ډله زیږولی که وار د غونډو وی هسی نه چی دوی هم په تولداوزیږون پیل وکړی او د نسل تحدید په پام کی ونه نیسی له نښو نښانو خو داسی ښکاری چی روم د کومی بلی غونډی یا خوځښت حمل (جنین) اخیستی وی له قراره د اوریدو ښاغلی سیرت نوکی خوا بدی شوی او په کوم بل نامه بی خپل غږ پورته کړی، داسی لوی واړه نزاکتونه نور هم لیدل شوی چی د روم غونډی ګیډه بی درنه کړی ده.

لنګون کله غبرګونی هم وی او له دی زیات هم معنا دا چی په یوه وار د دوه، دری او له دی زیاتو زیږونو امکانات هم شته، لکه په پاکستان او ایران کی چی اووه اولس ډلی وزیږیدی.

وزیږیدی ډیری خو نوری وزیاتیدی اووه کاله د مخه یوی میرمنی هم اووه بچی زیږولی وو چی د ملګرو ملتونو د یوی ځانګړی له خوا بی د ځانګړی پالنی ترتیبات ونیول شول او تریوال ریکاټ بی ټینګ کړ.

هسی هم په پیښور کی د امریکی قونسلګری د ۱۳۷۹ لمریز کال د چنګاښ پر پنځمه په یوه تیلی پریس کنفرانس کی د روم او قبرس د غونډو استازی سره مخامخ کړل، د ربانی د ګرځنده حکومت استازی بی هم پری ورکډ کړ چی په نیویارک کی بی د اسلامی امارت استازی هم پرخوال وو.

د زرګری جنګ په اصطلاحی معنا زه سم نه پوهیږم خو ددغسی چمونو په لیدو سړی ویلی شی چی متحده ایالتونه د زرګری جنګ په جوړولو کی هم ښه مهارت لری او سات بی تیر دی.

که د قبرص غونډه له روم سره یو ځای کیږی نو جریر صاحب به د هغو مصورو یو ستړونو پره په چا اچوی چی په ۱۳٦۱ لمریز کال کی بی د پخوانی پاچا پر خلاف خپاره کړل، هغه لیکنی به څه ور تعبیر وی چی د پخوانی پاچا پر خلاف د شهادت، شفق، سیمای شهید یامداد او ... مخونه بی پری ډک کړی دی.

موږ د تیر په هیر له اصل نه ستړګی نه پټوو بلکی ژوندی بیلګی بی په مخ کی لرو، چی دغه بی شمیره اتحادونه او ائتلافونه بی څرګندوبی کوی آخر جریر صاحب او پخوانی پاچا خو د یو بل ګریوان نه دی ځیرلی چی تر منځ بی سړی او په توبی نشی، هغو چی تر منځ بی د وینو لښتی بهیدلی هم یو بل په غیږ کی نیولی او هغه وژنه او دښمنی بی هم د ملت او اسلام لپاره ګڼلی او بیا دغه دوستی او په غیږ کی نیونه هم.

په سیاست کی خو له پیله ورروستی خبره نشته، هسی هم په مینه او جنګ کی هر څه روا دی. د روم له غونډی خوسم نه یم خبر خو د قبرص یو برخوال پخپله راته لګیا و چی غونډه د داسی یوه هوټل په تالار کی روانه وه چی کرکی بی هغه حوض (ډند) ته ختلی وی چی چتی پیغلی. به تیوله ورځ پکي لپی لغړی لمبیدی، نفس او شیطان څوک نلری، نه د غونډی په جریان پوه شوی یو نه په پریکړو او مصوبو، ټولو هندارو ته کتل نژدی و چی ورمیرونه مو کاږه شی. ماښام به ټولو د ورمیرونو له دردنه شکایت کاوه.

دغه غونډی به زموږ تولس شل کړی که نه او له وریو به شری راجوړی کړی که څنګه خو دومره بی پایلو هم نه دی، د سیاست د ډیرو کانکور ځیلیو لپاره یوه بوخښیدنه ده چی د خپل محرومیت احساس پری خروب کړی، یوی خپرونی خو لا داراز هم افشا کړ چی په کوم هوټل کی د قبرص غونډه جوړه شوی وه هغه د ښاغلی جریر ملکیت دی، خو د ښاغلی جریر وروړ ښاغلی افراسیابی دا خبره غلطه او یو پروپاګند وباله والله اعلم.

خبره د قبرص د غونډی په اړه وه ښاغلی عمر خطاب له امریکی نه له حکمتیار سره یوه مرکه کړی. ددې مرکی په پیل کی ښاغلی خطاب ویلی دا ځل دی پوښتنی نه کوی اوریدونکو ته وخت ورکوی چی خپلی پوښتنی مطرح کړی، له حکمتیار صاحب سره د تیرو مرکو له امله د حزب ځینو ملاتړ و تری ګیله کوله چی پوښتنو جار حانه او یو اړخیزه ښه لرله، که نه نو ښاغلی خطاب داسی په اسانه څوک نه پریږدی چی تر هغی بی ښه ونه ځنډی.

له حکمتیار صاحب نه یوه پوښتنه د قبرص د غونډی په اړه وه له دی مخکی حکمتیار صاحب د یوه بل پوښتونکی په ځواب کی ښه په ډیر ووېل: زه تر پلالی لاندی د اوبو تیرولو قایل نه یم صریح سړی یم. صراحت می خوښیږی، هره خبره په جار او ډانګ پیلی کوم.

حکمتیار صاحب د صراحت خبره له پخوا څخه کوی، په ۱۳٦٦ لمریز کال موږ څو تنه د یوی ځایی ورځپانی سره د مرستی لپاره سپینی شګی ته ورغلی وو خو دده ځواب لنډ وو په ربښتیا هم صریح او څرګند و، ده ویل: که زه د لکونو په کچه هم له دغی خپرونی سره مرسته وکړم د جنګ او نوای وقت کچی ته نشی رسیدلای، که زما د شخصی ګټی او تبلیغاتو خبره هم وی هغه د جنګ او نوای وقت له لاری ښه تر لاسه کیدای شی، زموږ یو څه ټینګار سره بی زیاته کړه: ګوری زه نه تاسی په تورو تخودو پسی لیږل غواړم او نه مو دوکه کوم، ښکاره درته وایم، په ډاګه بی درته څرګندوم زه صریح سړی یم. دا کار نه کووم، ځوابه نه بدوی.

که څه هم وروستیو حالاتو ښودلی چی د جنګ او نوای وقت په ځای ددغسی ځایی خپرونو رول او اغیز زیات شو خو دده له منفی ځواب سره موږ دده په صراحت خوابدی نشو او په سپینه شګه کی بی په دغسی سپینه خبره لا خوشاله هم شوو.

په صراحت کی یو خوند هم وی، له ډیرو ژوولیو خبرو یو ښکاره «نه» غوره دی.

حکمتیار صاحب له ښاغلی خطاب سره په مرکه کی دا خبره بیا - بیا تکرار کړه چی دی په صراحت باور لری او له مجاملی کرکه کوی خو کله چی د قبرس د غونډی په اړه تری وپوښتل شول: تاسی چی ددغی غونډی ملاتړ نه کوی او کومه تمه او توقع هم تری نلری څنګه کیدای شی غونډه ستاسی د زوم او د ګوند غړی په ابتکار تر سره شی آیا ښاغلی جریر اوس د حزب غړی نه دی؟

حکمتیار صاحب ناڅاپه پر صراحت بی باوره غونډی شو، صراحت ته بی شاکړ او هماغه لومړنی خبره بی سره وژووله:

هغه زموږ استازی نه دی، په شخصی توګه بی دا کار کړی او د حزب نمایندګی نه کوی، خو پوښتونکی ورغبرګه کړه: ښاغلی جریر اوس هم ادعا کوی چی د حزب غړی دی بیا د حزب له پالیسی، خبرتیا او تایید پرته څه ډول دومره ستری چاری ته لاس اوږدولای شی هغه هم داسی چی حزب دی پری ځان ناګاره کړی، نه بی له حزب څخه اخراج کړی او نه کومه بله څرګند تیا وراندی کړی.

حکمتیار صاحب بیا هم په صراحت غږ نه شو، هغه صراحت چی دده یو متبارز خصوصیت ګڼل کیده، ده زیاته کړه: دا د حزب د با صلاحیته ارګانونو کار دی چی څوک شته څوک نشته، څوک وباسی، څوک تعزیر کړی خو پوښتونکی هم کلک نښتی و چی څرنګه تر اوسه د حزب با صلاحیته ارګانونو دا کار نه دی کړی دلته و چی حکمتیار صاحب پر صراحت د بی باوری تر څنګ عصبانی هم شو، خبره بی لنډه کړه: زه پر هماغه ځواب اکتفا کوم دا مهم سوال نه دی، د نور بحث ضرورت نشته.

سړی نه پوهیږی دا کوم مجبوریت و چی حکمتیار صاحب غونډی صریح سړی بی هم د خپل همیشنی عادت او ځانګړنی پرېښودو ته اړ کړ، له دی نه سړی پوهیدای شی چی خبره له څومره باریکیو او نزاکتونو ډکه ده.

حکمتیار صاحب ښاغلی جریرد نوم پر ځای د «هغه» په ضمیر یادوی، د «هغه» یا «ده» ضمیر معنا څه کیدای شي او کوم مجبوریت سړی دي ضمیرونو ته اړ باسی؟

حکمتیار صاحب د روم غونډی په اړه خپله پریکړه په ډاګه اعلانوی چی هغه د سی آی ای په لارښوونه او تمویل پیل شوی، خو د قبرس په اړه یواځی دومره مهربانی کوی چی هغه په شخصی توګه دا کار کړی، خو د تمویل او لارښوونی خبره بی پټه ساتی.

خپله په قبرص کی غونډه جوړول هم یو لړ پوښتنی را ولاړوی د جهاد په وختونو کی به چی تنظیمی مشرانو د اتحاد لوړه وکړه نو سعودی چارواکو به مکی مکرمی ته وبلل د الله تعالی د کور د روازه به بی ورته پرانیستله کړه او هلته به بی بیا لوړی او سوګندونه تجدید کړل خو چی را وبه وتل هماغه خرک و او هماغه درک.

رحمان بابا ویلی او سلګونه کاله د مخه بی ویلی:

د مکي په بزرګی کی هیڅ شک نشته

...

روم خو ورځه د پخوانی پاچا د دریو لسیزو استوګنځای دی نه یواځی دده د میشتدنی ځای دی بلکی له ده د مخه اعلیحضرت غازی امان الله خان هم له واکمنی وروسته هلته استوګنه غوره کړی او د نړی ځینی نور لیری کړی شوی واکمن هم هلته میشت دی.

دا بیا بیله خبره ده چی شړل شوی جمهور رئیس ښاغلی ربانی تر اوسه هلته مخه نه ده کړی او د بدخشان او تخار د سمڅو او غرونو فراری او د پیښوریانو خبره روپوش او مخرور دی.

۴ شرح منظومهٔ عروج و نزول اسلام

پوهیالی
لیلما "یما"

اسـلام، پيام آور ترقي و تمدن

خوانندگان گرامي، قابل يادآوريست كه درشماره هاي گذشته از بعثت پيامبر «ص» ظهوردين اسلام، رحلت آن بزرگوار سخن رفت و از جانشينان پيغمبر «ص» يعنيْ خلفاي راشدين و كار كرد ها و عملكرد هايشان صحبت به عمل آمد كه چگونه صادقانه و مشتاقانه در راه پخش و نشر اسلام كوشيدند و دين رهايي بخش اسلام را به اطراف و اكناف جهان تا جايي كه عمر به آنها مجال داد منتشر ساختند و راهي را كه پيغمبر «ص» بزرگوار اسلام رفته بود و آرزو داشت كه جانشينانش آن را تعقيب كنند ادامه دادند و دوره، طلايي را ثبت تاريخ اسلام نمودند.

همچنان نظر گذرايي بر اصحاب پيغمبر افگنده شد و ازعلميت، دانش و عملكرد هاي آنها داد سخن رفت. در اين شماره از عظمت و شأن و شوكت تمدن اسلامي ياد آوري ميگردد كه در عهد امويان و عباسيان در سراسر آسيا و افريقا تا اسپانيا در اروپا به اثر مجاهدت مسلمانان انتشار يافته بود.

بند شانزدهم :

ياد كن از دوره، عباسيان در اسيا
ياد كن از دوره، اميه در اسپانيا
يادي از هارون و مامون به چشم تر نما
يك زمان بر ياد المنصور هم لب برگشا
زانكه در ايام ايشان شان و شوكت داشتيم
در ترقي و تمدن سهم و شركت داشتيم

شرح : شاعر در اين بند به صورت شاعرانه از دوره، عباسيان و امويان اندلس ياد مينمايد و تذكر ميدهد كه اسلام عزيز در زمان عباسيان مخصوصاً عهد هارون الرشيد و مامون الرشيد در اسيا به اوج ترقي و تمدن نايل آمده و در اسپانيا در عهد المنصور اموي كه در اندلس فرمانروايي ميكرد اسلام به پيشرفتهاي قابل ملاحظه، رسيده بود بناءً از خواننده خويش تقاضا به عمل مي آورد كه از آن دوره هاي درخشان يادي نمايد و به ياد شخصيتهاي آن دوره دعا بخواند زيرا در زمان آنها جامعه اسلامي شان و شوكت داشت و گامزن شاهراه تمدن و ترقي بود.

وقتي شاعر در مصرع سوم خطاب به خواننده، خود نموده ميگويد كه از هارون و مامون به چشم تر ياد كن، منظور نظرش اين است كه زمان هارون و مامون زمان اوج ترقي و تمدن اسلامي بود و اما متاسفانه امروز مسلمانها در يك حالت ركود به سر ميبرند كوچكترين حركتي در جهت خود كفا شدن خود و يا از نظر اخلاقي در جهان مثال قرار گرفتن خود بر نميدارند امروز در اكثر كشور هاي اسلامي جنگ و جدال وجود دارد به همين خاطر است هر جايي كه تروري صورت ميگيرد مسلمانان متهم شناخته ميشوند و اين بخاطر آن است كه مسلمانان به حال خويشتن توجه نمي نمايند و جهل و ناداني را از خود دور نميكنند و در پي آن نميشوند كه فقر و ناداري را از كشور هايشان بزدايند، در نتيجه ضعيف و خوار بوده و با ديده، حقارت به آنها نظر ميشود و به اعمال بد منسوب ميگردند.

و همچنان وقتي در مصرع چارم ميگويد كه شما (خواننده گان شعرش) در حق المنصور اموي لب بگشاييد و دعا نماييد. هدف شاعر اين است كه عهد المنصوري اموي در اسپانيا زمان شايان توجه است زيرا در دوران حكمروايي المنصور اموي است كه بزرگترين علما و دانشمندان اسلام به منصه، ظهور ميرسند و با پخش آثار شان اسلام حقيقي به اسپانيايي ها معرفي ميشود و فرهنگ و تمدن اسلامي تكامل ميكند.

بند هفدهم :

آن معظم فاتحان دين پرست نامور
چون به تسخير جهان بستند از همت كمر
عزم شان را دايم استقبال بنمودي ظفر
آه تا از چشم ما رفتند چون نور نظر
رفتن آن نامداران نام ما زد بر زمين
دور از آنها آبروي ما عرق شد بر جبين

شرح : ادامه دهندگان راه پيامبر «ص» فاتحان با عظمتي بودند كه در دين پرستي خويش نيز مشهور بودند آنها هر زماني كه براي اشاعه دين اسلام به تسخير منطقه يي كمر همت بسته ميكردند و عزم مينمودند پيوسته كامياب ميشدند زيرا عزم و اراده راستين آنها را، پيروزي و موفقيت هميشه استقبال مينمود و اما با تاسف از زماني كه آنها از جهان رفتند عصر طلايي اسلام نيز به پايان رسيد و ديگر دامنه پخش تمدن و فرهنگ اسلامي فروكش كرد زيرا بعد از آنها افرادي نبودند كه هم اهل علم و دين باشند و هم مرد ميدان جنگ و سياست، بناءً بعد از آنها نام ما مسلمانها به زمين خورد چه ما نتوانستيم ديگر مانند آنها در جهت پخش و نشر تمدن اسلامي كاري بكنيم و اين مايه آبرو ريزي ما است، زيرا اسلام به اثر مجاهدت و تلاش مؤمنان راستين آن دوران در اطراف و اكناف جهان به عنوان آخرين و كاملترين دين آسماني انتشار داده شد و مردم به راه راست هدايت گرديدند. به اين جهت ميتوان گفت كه بازماندن اسلام از پيشروي نوعي از ابرو ريزي و شرمساري مسلمانان محسوب شده ميتواند.

شاعر در مصرع چهارم با آه و حسرت از در گذشت مؤمنان راستين ياد مينمايد و آنها را به نور نظر (چشم) تشبيه مينمايد. همانطوري كه نور در داخل چشم وقتي نفوذ ميكند باعث بينايي شده انسان ميتواند همه چيز را ببيند و اما اگر نور از پرده هاي چشم عبور كرده نتواند و يا نوري براي عبور كردن نباشد در حقيقت چشم كور است. و مبارزان راستين اسلام هم مانند نور از برابر ما عبور كردند و رفتند و ما بدون آنها نا بينا گشتيم.

همچنان مقصود شاعر در مصراع پنجم و ششم اين است كه با رفتن آن اشخاص نامدار نام ما بر زمين خورده و درعدم موجوديت آنها ابروي ما مانند عرق بر پيشاني ما شد وقتي انسان در كاري سهل انگاري نموده باشد هنگام باز پرس بخاطر عدم انجام آن عرق از سر ور ويش جاري ميگردد بناءً كساني كه در جهت آموزش و نشر و پخش تمدن اسلامي كاري از پيش نميبرند در نزد خدا«ج» پيغمبر و اسلام شرمسار و ابرو ريخته اند.

بند هژدهم :

روم و يونانان يافتند از فرقه، اسلاميان
علم و فن و عدل و انصاف و مروت بيگمان
تا كه(بورك هارد) از انصاف هم كرده بيان
در سياحت نامه، خود اين چنين اي نكته دان
از مسلمانان اروپا صاحب اخلاق شد
خلق نيكو منبسط زينقوم در آفاق شد

شرح : شاعر در اين بند از تاثيرات اسلام بالاي كشور هاي ديگر چون روم و يونان (اروپاي قرون وسطي) كه قبل از اسلام مركز علم و تمدن بودند و از اروپا در مجموع سخن رانده ميگويد : روم و يونانان با وجودي كه قبل از اسلام مهد پرورش علم و تمدن بود و دانشمندان بزرگي چون ارسطو، سقراط و افلاطون را در خود داشتند بعد از فتح روم شرقي در سال ۱۴۵۳م بدست مسلمانها، يوناني ها علم و فن عصري را كه با خصايص عالي انساني چون عدل، انصاف، جوانمردي توأم بود از مسلمانان فرا گرفتند چنانكه بورك هارد كه يكي از مستشرقين غربي است و بين سالهاي ۱۷۸۶-۱۸۱۷م ميزيست در سياحت نامه خويش به وضاحت مينويسد كه علم و فن عصري توسط مسلمانان به اروپا برده شد و پخش و نشر گرديد و اروپائيان از بركت مسلمانان صاحب اخلاق نيكو شدند و حتي همين اخلاق پسنديده اسلامي توسط مسلمانان در سراسر جهان منتشر گرديد.

قابل ياد آوريست كه بورك هارد زماني كه از غرب براي سياحت به شرق آمد اخلاق و كركتر مسلمانان خيلي ها مورد علاقه اش واقع شد و در مصر سكونت اختيار كرد. وي اولين اروپايي است كه خانه، كعبه شريف را زيارت نموده است.

به هر حال در سه بند بالاي قسمي كه تذكر داده شد از نقش جهاني و بين المللي اسلامي و مسلمانان در تمدن جهاني سخن رفت و از اثر مثبت و فعال مسلمانان در جهان ياد آوري گرديد.

ادامه دارد

شهیدو ماین پاکانو!

محمد نعمان
دوست

تاسو به څو څو ځلي خپلو هیواد والو ته ویلي وي چي :

«ماین پټ دښمن دی»

«مـاین دوست او دښمن نه پیژنی، او ...»

ستاسو فکر او پام تل له ماینونو سره ؤ او هڅه مو کوله چي خلک له دغه نا څرګنده او پټ دښمن نه خبر کړی تاسو به دا هم خلکو ته ویلی وی چی :

«ماینونه ګڼ شکلونه لری، حتی ځینی د ډیرو اشنا او ضروری ځیزونو په څیر لکه : قلم، ساعت او هم د لوبو د شیانو په ډول پیدا کیږی. خو پام! چی دغه شان ځیزونو ته په نا اشنا ځایونو کی لاس وْرنه وړی!»

کـه څه هم تاسو په دی پوه وی چی ماینونه د ډیرو اشنا ځیزونو په ... پیدا کیږی خو له دغو شیانو ډیرو اشنا څیره له تاسو هم هیره وه او تصورامو هم نه کاوه ستاسو دی ته پام نه ؤ چی ماینونه کله کله د انسانانو په څیر هم پیدا کیږی، هغوی هم دوست او دښمن نه پیژنی، په هر ځای او هر وخت کی خلک له منځه وړلی شی دغه ماینونو ته ورته انسانان له وختونو وختونو راهیسی په پټه او ښکاره تو ګه خلک له منځه وړی وګوری د لیلی په دښته کی پی ځو مره ستړو او بی ګناه مسافرو تنکی بدنونه توټی توټی کړل، د هیواد ځوان او تکړه ژورنالست میرویس جلیل یی په پوره نا ځوانی په خپلو وینو ولمباوه او بالآخره ستاسو خدمتګاره لاسونه هم مات او سینی یی درته غلبیل غلبیل کړی.

مظلومو شهیدانو!

کله چی ستاسو سره کټونه د انګړ په دروازه ننوتل ... تول به درته له کیږ ... شاو خوا درېدلی وی مور به مو په لړزېدلی لاس له مخه په وینو لړلی څادر لری کړی وی او کله یی چی ستاسو په تپی مخونو سترګی لګیدلی وی چیغه به یی له خولی وتلی وی، خو ډیر ژر به غلی شوی وی او ځانته به یی په دی داډ ورکړی وی چی : د خدای «ج» رضا ده کـه خپله ځوانی یی وخوره، نو د ډیرو ژوند یی وژغوره، دا مو له اولی ورځی زړه کی تیره کړی وه، د جالوان مرګ له اوبو وی خبر دی .

خو کله چی په اصلی کیسه پوه شوی وی خاوری به یی په سر باد کړی وی ګریوان به یی تر لمنی څیرلی وی په چیغو چیغو به یی ویلی وی : ظالمانو! دا په کومه ګناه ؟ په همدی جرم چی ملت ته بی ارام ژوند غوښته ؟ په همدی ګناه چی د هیواد له تپی سینی بی ماینونه ویستل ؟ددوی خو له هیچا سره دښمنی نه وه، د خدای«ج» په قهر ککړ شی آخر ولی ؟!

خو ډیر ژر به یی د خپل هیواد د ډیرو بی ګناهو مظلومو انسانانو بی رحمانه وژنی سترګو ته درېدلی وی آخر به یی زړه صبر شوی وی او بیا به یی ظالمانو ته د ښیراوو په بدرګی سره ستاسو مظلومی څیری د خاورو غیږ ته سپارلی وی .

د اصحابو د ژوند پلوشي

۱۳

لیکوال : دکتور عبدالرحمن رافت باشا

ژباړن : بشار

د عربو کونډه اُمِّ سلمة «رض»

اُم سلمه، او ته څه پوهیږی چی اُم سلمه څوک ده ؟

پلار یی د مخزوم د قبیلی د معتبرو مشرانو او د عربو د څو مشهورو سخیانو څخه ؤ تر دی چی ورته ، زاد الراکب، یعنی د سپرو توښه ویل کیده، او دا په دی چی هغو سپرو چی به د هغه کوروټو ته راتلل، او یا د هغه سره به یی په سفر کی ملګرتیا کوله نو د خپلو ځانونو سره به یی توښه نه اخستله.

میړه یی عبدالله بن عبدالاسد، د اسلام له لسو رومبنیو مسلمانانو څخه ؤ د هغه څخه مخکی یواځی ابوبکر الصدیق او د ګوتو په شمار لږو کسانو اسلام منلی ؤ .

نوم یې هند ، کنیه یې اُم سلمهٔ او پخپل کنیه اسم یی شهرت موندلی ؤ .

اُم سلمه د خپل میړه سره اسلام منلی، او په اسلام کی له رومبنیو کسانو څخه ګڼله کیږی.

د اُم سلمه او د هغی د میړه د اسلام منلو غږ لا نه ؤ خپور شوی چی د قریشو شور او غوغا پورته شوه، میړه او ښځه د ډېره یی د داسی عذابونو سره مخامخ کړل چی د هغو د سختی څخه به کلکی تیږی په هیبت کی شولی مګر د غو دواړو نه د کمزورتیا او نه د سستی احساس وکړ او نه یی د وارخطایی. کله چی په دواړو تکلیف زیات شو، او حضرت پیغمبر «ص» خپلو ملګرو ته د حبشی د هجرت اجازه ورکړه نو دوي دواړه د حبشی د مهاجرینو په سر کی ؤ .

اُم سلمه او میړه یی دواړه د مسافری ځمکو ته ولاړل، او په مکه کی یی ښه اباد کور چی د لوړ عزت او اصیل نسب خاوندان ؤ د خدایٔ په لرد د ښه اجر او د هغه د رضا په غرض پریښودل او سره ددی چی اُم سلمه او د هغی ملګری د نجاشی (خدای دی په جنت کی خوشحاله ولری) د ښه پام او مهربانی سره مخامخ ؤ بیا هم د وحی د نزول ځای مکی او د هدایت مصدر رسول الله «ص» ته یی ډېر شوق ښوده او د دواړو زړونه به له ډېره هوسه تو ته کیدل.

بیا کله چی د حبشی مهاجرینو ته خبرو نه ورسیدل چی په مکه کی د مسلمانانو شمیر زیات شوی دی، او د حمزه بن عبدالمطلب او د عمر بن الخطاب مسلمانیدل د مسلمانانو د قوت سبب ګرځیدلی، او تر یوی اندازی د قریشو ضرر رسول یی کم کړی دی نو د مهاجرینو یوه ډله مکی ته ستنه شوله، او د ستنیدلو سبب یی د مکی او د رسول الله «ص» سره مینه او شوق درلودل ؤ.

ولی بیا د مهاجرینو ستنیدونکو ته ژر معلوم شو چی کوم خبرو نه دوی ته رسیدلی ؤ په هغو کی مبالغه شوی وه او کوم حرکت چی مسلمانانو د حمزه او عمر د مسلمانیدلو څخه وروسته کړی ؤ هغه د قریشو د لوی ظلم سره مخامخ شو.

مشرکانو د مسلمانانو په ربړولو او ویرولو کی ډیر تیری وکړ او مسلمانان یی له پخوا څخه زیات د ډیرو ربړونو سره مخامخ کړل .

په دغه وخت کی رسول الله «ص» خپلو ملګرو ته د مدینی د هجرت اجازه وکړه اُم سلمه او میړه یی دواړه د مهاجرینو له لومړیو کسانو څخه وُ چی د خپل دین سره فراری شول، او ځانونه یی د قریشو د ظلمونو او ربړونو څخه وژغورل، مګر د اُم سلمه او د هغی د میړه هجرت څنګه چی د واړو ګومان کاوه کوم آسان کار نه ؤ بلکی دومره سخت ؤ چی د ځان څخه یی وروسته داسی غمجنه پیښه پریښوده چی نوری پیښی ورته هیڅ دی.

اوس خبره ددی ده چی اُم سلمه مونږ ته د خپلی غمجنی پیښی بیان وکړی چی د هغی په نسبت د ژور احساس او ښه تمثیل خاونده وه .

اُم سلمه وویل :

کله چی اُبو سلمه مدینی ته د وتلو اراده وکړه تو ماته یی یو اوښ سنبال کړ اوزه یی په هغه باندی سپره کړمه او زمونږ سلمه ماشوم زما په غیږ کی ؤ او اُبو سلمه اوښ په ځان پسی روان کړ، او بل هیڅ شی ته یی نه کتل.

مخکی له دی چی له مکی څخه وو ځو مونږ ته زما د قوم (بنی مخزووم) د څو سړیو فکر شو او بیا هغوی زمونږ په مخکی ودریدل، او اُبو سلمه ته یی وویل : که ته له مونږ څخه ځان خلاص کړی نو ستا د دغی ښځی موضوع به څنګه شی ؟

هغه زمونږ لور ده او مونږ به تا څرنګه پریږدو چی هغه د ځان سره کړی، او په ښوادونو کی یی وګرځوی ؟!

بیا د بنی مخزوم سړی په هغه باندی راتول شول، او زه یی ور څخه جلا کړمه . بیا څنګه چی زما د میړه قوم بنو عبدالاُسد زما او زما د ماشوم د جلا کولو حال ولید نو هغوی ډیر په قهر شول او ویی ویل :

په خدای سوګند ، مونږ تاسی ته ددغه ماشوم، چی د هغه مور مو له خپل میړه څخه جلا کړه پریښودونکی نه یو ، هغه زمونږ زوی دی او مونږ د هغه حق لرو بیا هغوی پخپلو منځو کی زما د ماشوم د اخستلو په هلو ځلو کی شول او ما د هغوی ددغه حالت تماشا کوله تر دی چی د هغه لاس یی په ډیر رابښکودلو بی ځایه کړ او هغه یی ور څخه واخیست .

پاتي لري

د تیرو۳ اوونیو په ترڅ کې د ...

پاکی دی.

۱- د پاکو اوبو منابع : هغه ځاګانی چی په سم ډول کیندل شوی، سرونه یی پټ او شاوخوایی کانکرېټ شوی وی له بیت الخلانه له ۱۵ تر ۲۰ مترو پوری فاصله ولری او په شاوخوا کی یی ناپاکی اوبه او نوری چټلی راغونډی نه شی او اضافی اوبه یی هم په سمه توګه پټی یا کوځی ته رهنمایی شوی وی د پاکو اوبو منابع بلل کیږی.

د بمبی اوبه : د هغو ځاګانو اوبه چی د برمی په وسیله کیندل شوی لاندی په ځاکی کیسنګ (د خوندی ساتنی پلاستیکي دیوال) او د پاسه پری بمبه لګول شوی وی پاکی دی. لکه د کلیو د پراختیا د ریاست اړوندی ځاوی او بمبي چی د ملګرو ملتو د یونسف اداری په مرسته کیندل شوی. هیڅ وخت باید د هغو بمبو له اوبو نه استفاده ونه شی چی بیت الخلا ته څیرمه لګول شوی، ناپاکی اوبه بیرته ورننوزی او یا یی هم په شاوخوا کی حیوانی یا نوری چټلي راټولی شوی وی. البته د ډول اوبو نه د کار اخیستو په صورت کی په راز راز انتانی وژونکو ناروغیو د اخته کیدو چانس زښته ډیر دی.

۳- د نل اوبه : دا هغه اوبه دی چی د فواید عامی وزارت اړوند د اوبو رسولو د تصدی او د کلیو د پراختیا د اوبو رسولو د ریاستونو له خوا له مطمئنو زیرمو نه په زیات لګښت سره برابری او د منظمو شبکو له لاری د کابل ښار بیلا بیلو سیمو ته رسول کیږی. له روغتیایی پلوه دغه اوبه بیخی ډاډمنی دی. ددی اوبو زیرمی تل د عامی روغتیا وزارت اړوند د دوو ګرځنده لابراتوارونو په وسیله کنټل کیږی. څرنګه چی ددی اوبو مقدار لږ او ځینو ځایونو ښارونو لپاره ځانګړی شوی نو باید د سمسورتیا، آبپاشی او د موټرو د مینځلو لپاره کار تری وانه خیستل شی.

محترم معصومیار ددی پوښتنی په ځواب کی چی ناپاکی اوبه څرنګه په پاکو او روغتیایی اوبو اړولی شو ؟ داسی وویل؛ په ابو کی بو شمیر کوچني باکتریاوی، وایرسونه، پروتوزوا او داسی نور میکروبونه شته چی په سترګو نه لیدل کیږی. د انسان روغتیا ته زیان رسوی کله چی انسانی حیوانی او محیطي کشافات په مستقیم یا غیر مستقیم ډول له اوبو سره په تماس کی شی نو ددی میکروبونو شمیر په کی زیاتیږی کله چی روغ سړی له دی اوبو نه استفاده وکړی نو په نس ناستی، پیچش، محرقی او نورو ناروغیو اخته کیږی. دغه ذره بینی موجودات چی په اوبو کی ژوند کوی او د ډول ډول ناروغیو سبب کیږی د لابراتوار په وسیله لیدل کیدی شی له نیکه مرغه د همدی موخی دتر سره کولو لپاره په دی وروستیو ورځو کی د عامی روغتیا وزارت په نوښت دوه ګرځنده لابراتوارونه په کار اچول شوی چی د کابل ښار د ځښاک د اوبو د ټولو زیرمو او عامه ځاګانو پر څارنی برسیره، روتین باکتریالوژیکی او کیمیاوی کتنی هم سرته رسوی همدارنګه یو لړ نوری لاری چاری هم شته چی موږ ته د اوبو د پاکوالی ډاډ راکوی او په لاندی ډول دی:

۱- د ځښاک لپاره له ایشول شویو اوبو نه استفاده کول .

۲- که چیری کیدی شوی اوبه دی فلتر شی.

۳- د کلورینو په وسیله په اوبو کی د ټولو میکروبونو له منځه وړل، یعنی د کورونو، عامه ځاګانو او د اوبو د ټولو زیرمو کلوریشن کول.

٤- د اوبو ساتنه په پاک او سرپوښ لرونکی لوښی کی .

٥- ماشومان باید د ځښاک په اوبو کی لاس وهلو ته پری نه ښودل شی. او له مچانو بي خوندي ساتل.

٦- د اوبو له لوښی نه د اوبو اخیستلو په وخت کی مو باید لاسونه او اخیستونکی لوښی پاک وی.

۷- د اوبو لوښی باید پاک ومینځل شی او په داسی حال کی چی باد او دوړی نه وی د یو څه وخت لپاره لمر ته کیښودل شی.

۸- د امکان په صورت کی ځښاک لپاره د نلونو او بمبو له اوبو نه استفاده کول.

په پای کی د کلوریشن د پروګرام مشر زیاته کړه : کلوریشن هغه بیړنی پروګرام چی څه موده وړاندی یی د کابل ښار کی په کار پیل کړی په لاندی ډول خپلی دندی ترسره کوی.

۱- د ځښاک د اوبو د ټولو زیرمو کلوریشن .

۲- د روغتیایی تیمونو له خوا د شکمنو ځاګانو کلوریشن.

۳- په اوبو کی د کلورینو د اغېزمنتوب او ګټور تیا کتنی.

٤- د عامه ځاګانو او نلونو د اوبو لابراتواری کتنی.

٥- د ښځینه تیمونو له خوا د رنو میندو او خویندو ته د اسلام د مقدس دین د ارشاداتو په رڼا کی تبلیغات.

٦- کمپیوتر ته د احصایی او ارقامو د ځرګندولو لپاره د ټولو ورځنیو چارو د راپوروتو سپارل.

۷- د کلوریشن د پروګرام د پرمخ بیولو لپاره د اړتیاوړ پانو چاپول.

د یادونی وړ ده چی د تیرو دوو اوونیو په ترڅ کی د کابل ښار په بیلا بیلو ناحیو کی څه د پاسه (۱۳۰۰۰) د ځښاک د اوبو زیرمی او عامه ځاګانی کلوریشن شوی او دا بهیر په چټکی سره پر مخ روان دی.

سید یوسف

۲۰ تنه مخالف قوماندانان اود

قوماندانانو ته د استخباراتو مسؤول محترم قاری عین الدین او د کوهستاناتو ولسوالی نظامی مسول محترم قاضی عبدالحی هر کلی ووایه.

جریان برق در ادارات ...

پوهنتون کابل نیز حاضر بودند افتاح گردید . پروژه احیای شبکه برق رسانی ترانسفارمر متذکره از بودجه وزارت تحصیلات عالی تکمیل و به بهره برداري سپرده شد.

جامع جومات ...

مرستیال محترم مولوی صدر اعظم او د ننګرهار ولایت د مرافعه محکمی رئیس محترم مولوی محمد فاضل عتیق په وار سره د جوماتونو د جوړولو د فضیلت په باب اوردی خبری وکړی.

در عایدات ریاست ...

ربع اول سال ۱٤۲۱ هجري قمري یك اعشاریه شش ملیارد افغاني در عواید برق ازدیاد به عمل آمده است.

وي افزود : هفت هزار و پنجصد پایه میتر از سوي ریاست برق ولایت ننگرهار به شهروندان ولایت ننگرهار توزیع گردیده است.

بخاطر جلوگیري از ضایعات انرژي برق لین هاي غیر قانوني که طور مخفیانه از سوي تعداد از شهریان به لین هاي عمومي وصل گردیده است باید قطع شود که سب ستیشن برق ولایت ننگرهار با وسایل و پرزه جات دو باره مجهز گردیده و شبکه تخنیکي ستیشن یاد شده کاملاً بهبود یافته است.

وي میگوید: ریاست برق ولایت ننگرهار با شبکه هاي تولیدي انرژي برق دیزلي که در ولسوالي هاي آنولایت ایجاد میگردد همکاریهاي لازم را انجام داده است .

موصوف اضافه کرد : به طور مجموعي سه توربین تولید انرژي برق ولایت ننگرهار در ٢٤ ساعت حدود سي و پنج هزار کیلو وات برق را احتوا میکند بهمین منظور نصف از مشترکین برق در یك شب و نصف دیگر آن در شب دیگر مطابق جدول مرتبه از سوي ریاست برق ولایت ننگرهار از انرژي برق مستفید میگردند زیرا کمبود آب مشکلات را در تولید انرژي برق به میان آورده است.

محترم رئیس برق ولایت ننگرهار افزود: تمام ترانسفارمر ها و صندوقهاي مربوط جگشن هاي ولایت ننگرهار از سوي ریاست برق ولایت ننگرهار ترمیم و باز سازي گردیده است.

ضروري تصحیح

درنو لوستونکو!

په تیره ګڼه کی د فواید عامی د وزیر محترم مولوی احمد الله مطیع نوم سهواً مطیع الله مطیع لیکل شوی وو ، هیله ده چی زموږ عذر ومنی.

اداره

په پکتیا کې ...

خبر راکړ: د پکتیا ولایت د سید کرم ولسوالی امنیتی موظفینو په دی وروستیو وختو کی ددغی ولسوالی په مربوطاتو کی د شپیته جریبه ځمکی ساحه د بنګو له بوټو څخه پاکه کړی ده د سید کرم ولسوال محترم مولوی محمد عثمان حنیفی وایی: ددغی ولسوالی خلک په دی بهیر کی ددغی ولسوالی له چارواکو او موظفینو سره په مستقیمه توګه همکاری کوی او په بشپړه توګه د مخدره موادو په ناوړو پایلو او منفی اغیزو باندی په پوهیدو سره بی په تیرو څلورو میاشتو کی نژدی دری سوه شپیته هکتاره ځمکه د بنګو له بوټو څخه پاکه کړی ده .

٦ ملیون هکتار زمین ...

را در اولیت وظایف خود قرار داده اند. قرار گزارشها شدت این آتش سوزي طي شش هفته آینده زیاد خواهد شد. به گفته مامورین جنگلداري ایالات متحده امریکا بعد از اطفاء حریق بیست سال را در بر خواهد گرفت تا جنگلات مذکور به حالت قبلي شان در آورده شوند.

مقامات جاپاني ...

واي جاپان جرایم تفنگداران امریکا را تاثر انگیز خواند و خواستار جلوگیري از تکرار این جرایم گردید .

بگزارش منابع خبري بین المللي تکرار جرم و جنایت عساکر امریکایي مستقر در جزیره اوکینا واي جاپان باعث شده است تا مردم و مقامات حکومتي آن جزیره با برگذاري اجتماعات مظاهرات و ریفراندم خروج عساکر مذکور را خواستار شوند.

نظامیان امریکایي مستقر در جاپان اکثراً دست به تجاوز جنسي و تخطي از قوانین ترافیکي در جاده ها شده که به جراحت و هلاکت تعدادي از جاپانیان منجر گردیده تاست .

طبق احصائیه رسمي چهل و هفت هزار نظامیان امریکایي در جاپان مستقر بوده که هفتاد و پنج فیصد آنان در جزیره اوکینا واي جاپان به سر میبرند.

انفجارات پي در پي ...

که در یك راهرو زیر زمیني در مسکو روي داد هشت نفر کشته و اضافه از نود تن دیگر جراحت برداشتند.

افسران پولیس دیروز در تمام شهر مسکو به گزمه پرداخته و ضمن بررسي کارتهاي هویت عابرین ، عمارات و موتر هاي مشکوك را نیز تجسس و تفتیش نمودند.

طبق همین خبر در حالیکه نگراني روز افزون در مورد احتمال بم گذاري بشتر در روسیه وجود دارد چندین شهر آن کشور از جمله ولادي واستوك و سن پیترز بورك در حالت آماده باش به سر میبرند.

د ګڼون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

پروژه تمدید لین ۱۵ کیلو ولت ...

باره احیا و آنرا توسعه دهد که در این پروگرام کار تمدید لین پانزده کیلو ولت برق از سب استیشن شمال غرب الي فامیلي هاي قرغه که کار آن توسط انجنیران و کارگران آمریت ولتاژ تصدي بریشنا موسسه چندي قبل در شهر کابل آغاز یافته بود اخیراً تکمیل و دیروز عملاً مورد بهره برداري قرار گرفت.

در محفلیکه بهمین مناسبت در سب استیشن شمال غرب ترتیب گردیده بود محترم مولوي احمد جان وزیر آب و برق در رابطه به ضرورت همچو پروژه ها و رفع مشکلات هموطنان از ناحیه برق صحبت نموده بعداً جریان برق در لین مذکور با فشار دادن دکمه توسط محترم مولوي احمد جان عملاً تامین گردید.

محترم انجنیر عبدالاحد آمر پروژه متذکره گفت قیمت پروژه مذکور مبلغ پنج ملیارد افغاني تخمین گردیده و لین مذکور به طول یازده کیلو متر از سب استیشن شمال غرب الي فامیلي هاي قرغه شهر کابل تمدید گردیده است این لین ظرفیت ۳۸۰ امپیر که قدرت نه و نیم میگاوات انتقال برق را دارا میباشد برجهاي برق ساحات خوشحال مینه فاضل بیگ، قرغه کمپني و پغمان که ترانسفارمر هاي آن سالم باقیمانده با تمدید لین متذکره از نور برق استفاده کرده میتوانند . محترم انجنیر عبدالاحد اضافه نمود : با بهره برداري پروژه متذکره براي ده هزار خانواده جریان برق تامین شده میتواند.

در اخیر این محفل محترم وزیر آب و برق از کار انجام شده رضایت و خرسندي نموده و براي انجنیران و کارگران پروژه متذکره مکافات نقدي توزیع نمود.

اهالي ولسوالي پغمان ولایت کابل ...

و مالداري مي باشند، هم اکنون حدود ٦ هزار خانواده یکه درین ساحه تراکم دارند تحت تهدید جدي خشکسالي قرار گرفته اند.

به‌اثر این خشکسالي مردم ۸۰ فیصد مواشي خویش را از دست داده و زراعت آنان که اکثراً پرورش باغداري مي باشد نسبت کمبود آب در کل از بین رفته است، حالا مردم در آنجا به قلت لا اقل آب آشامیدني نیازمند میباشند؛ همچنان آب آشامیدني چا ها تا ۲۰ متر کاهش یافته است.

در سال هاي قبل سطح کوه هاي سر به فلك پغمان که تا حوالي برج اسد تحت پوشش برف هاي زمستان قرار میداشت سال جاري این پوشش الي برج حمل تداوم ننمود.

حاصلات بارز میوه هاي سردرختي پغمان عبارت بود از سیب، زردآلو، بادام، چارمغز، آلوبالو، گیلاس،توت و ...

سیب باغات پغمان از مزیت خاص در منطقه برخوردار بود که سالانه حدود بیشتر از ۱٦۰۰ تن در مارکیت هاي عمده میوه در داخل و خارج کشور سرازیر میگردید؛ هکذا ساحه زراعت زیر درختي این ولسوالي که ٥٤ هزار جریب زمین را احتوا میکند و بوسیله ۷۰ کاریز محي آبیاري میگردید، فعلاً در مجموع این کاریز ها صرف آب آشامیدني آن هم ندرتاً وجود داشته و کلاً تحت تهدید جدي خشکسالي قرار دارند.

باشندگان این محل پس منظر این خشکسالي را ناتلافي پنداشته ایشان ضمن اینکه در سال جاري کلیه مواشي باغات و زراعت خویش را از دست داده اند بیم آنرا دارند که سلسله مهاجرت ها از این ساحه نیز آغاز خواهد شد.

مهربان

دفاتر ماین پاکي ...

اگست سال ۲۰۰۰ میلادي این پروسه بطور کامل تطبیق گردد.

وي این اقدام را یك گام نیك و ارزشمند در جهت پاکسازي هرچه بیشتر ساحات مزروعه ماین در افغانستان تلقي نمود.

منابع تامین اب...

مخورو په مالي لګښت دڅلور جریبه ځمکي په ساحه کي په پاخه او اساسي ډول جوړیږي د څلور سوه تنو طالب العلمانو ظرفیت لري ددغي مدرسي د بنسټ ډبري د ایښودلو په مراسمو کي دده سیمې ولسوال محترم مولوي محمد نسیم او ددغي کلي په ګن شمیر خلکو برخه اخیستي وه .

از طرف مسؤولین ...

جنابي قوماندانې امنیه ولایت کابل بالفعل دستگیر گردیدند.

سارقین به جرم خویش اعتراف داشته، قضیه تحت تعقیب جدي قرار دارد.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press